دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO »  پیژندنه !



## اتمه برخه

## د شمالی اتلانتیک د نظامی سازمان (ناټو) مشرتابه :

د شمالی اتلانتیک  نظامی سازمان (ناټو) یوه  ترټولوډېرمهمه څانګه  ددی سازمان مشرتابه  اوریاست دي  چې دهغه په راس کې عمومی رئیس قرارلري ،عمومی رئیس داستازوپه وسیله ټاکل کیږی اودعمومی رئیس څخه دټولوچاروپه سازماندهی اوترسره کولوکې کار ځنیی اخیستل کیږی .دناټوعمومی رئیس داستازوددایمی شورارئیس اودشوراداستازودجلساتو ریاست اودمشرتابه داداري چارواودشوراادنوررومختلفوچارومسؤولیت اوریاست پرخپله غاړه باندی لري .عمومی رئیس په همدی ډول سره راز،راز مسایل دلړلیدونواونظریاتودراکړي ورکړي دپاره وشوراته وړاندی کوي . عمومی رئیس کله چې دغړیوهیوادونو ترمنځ دیوی مسئلی په سردنظراودلړلید اختلاف رامنځته کیږی مسؤولیت لری چې  په دی هکله داختلافاتو دمنځه وړلودپار ه اړین پیل اوګټور وړاندیزونه ترسره کړي .

**ناټودسیاسی اوپوځی لارودخپلوغړیوخوندی ساتلوته ژمن دی داسازمان اوخصوصاً دهغه مشرتابه دهغو  هیوادونوسره دټرلوپراخومسائلوپه اړه لکه دفاعی اصلاحات اوسوله ساتنه ،سلامشوري اومرستي هڅوي .**

## نظامی کمیټه :

دناټودډېرومهموارګانونواوڅانګودجملی څخه یوه یې هم نظامی کمیټه ده چې دناټودعالی او لوړو نظامی ارګان په توګه پیژندل کیږی ،نظامی کمیټه دوزیرانودشورا له خواڅخه ټاکل کیږی اوپه دی نظامی کمیټه کې دټولـوغـړیوهیوادونوڅخه دهرهـیوادلوی درستیز،ددی نظامـی کمیټی غـړی دی او ونومـوړي شـورا ته مسؤولیت لري اودشورا په وړاندی ځواب ورکوونکی دی .

دنظامی کمیټی جلسی تل اودایمی ندی ، مګرڅه ناڅه په کال کې دوه ځله اویا دوخت اوزمان داړتیا په صورت کې کوم وخت چې اړین اومهم موضوعات رامنځته کیږی ددغه نظامی کمیټی جلسی هم صورت نیسی .دنظامی کمیټی بنسټیزی دندی دشمالی اتلانتیک وشوراته، ونظامی مسائلوته د معقولواومناسبوچارودحل دلارودوړاندیزنودوړاندی کولوڅخه عبارت دی . ددی نظامی کمیټی درياست کولوچاري دیوی جلسی نه تربلی جلسی پوری هرځل په وارسره دیوغړی پرغاړه باندی دی اودبلی جلسی ریاست اومخته بیول بیادبل غړی پرغاړه باندی په دورانی توګه باندی دی . دچاروسمبالول چې ددی کمیټی دجوړښتونه اودنظامی کړنو څخه عبارت دی ،چې « تل پاته اودایمی ډله نومیږی » اوپورتنی مسائل پرخپله غاړه باندی لري .

په (۱۹۵۲) میلادی کال کـې دلــزبن یوه کمیټه چې «دنظامـی استازودکمیټی » په نــوم جوړاو رامنځ ته سو،یودایمی اوتل پاته ارګان دی .دغه ارګان ددایمی ډلواودغړیوهیوادونود استازوڅخه عبارت دی ،اودکارځای یې په واشینګتن کې دی .

د« نظامی استازوکمیټه » داړینوخبرونواواطلاعاتوپه ورکولوسره ونورونظامی کمیټیوته په همدی ډول سره مرسته اوخپلې چاري ترسره کوي .ددی نظامی کمیټی ترڅارنه لاندی،یو نورشمیرسازمانونه هم خپلې چاري ترسره کوي چې دهغو دجملی نه لاندنی ارګانونه : لکه د«نظامی استاندردونو آژانس » ،« د فضایی څیړنودپراختیااودمشاورینوډله » او دشمالی اتلانتیک دترون دفاعی کالج » څخه عبارت دی .

اما نظامی عالی قوماندانی دډېرومهموسازمانونوڅخه جوړسوي دي چې دنظامی کمیټی ترلارښودنی اوڅارنی لاندی کار اوفعالیت کوی . دناټوپه هره کمیټه کښې ټولی پریکړی دنظرپه یووالی سره رامنځته کیږی ځکه نودناټوپریکړه دټولوغړیودګډی ارادی څرګنده ونه ده.

## دناټوعالی نظامی قوماندانی :

ناټوپه خپله ډیر لږشمیردایمی ځواکونه لری .کله چې دشمالی اتلانتیک شورا پریوعملیات موافقه وکړی .غړی هیوادونه په خپله خوښه ځواکونه ورکوي ددندی دترسره کیدو وروسته بیا دغه ځواکونه بیرته وخپلوهیوادونوته ورستنیزی ددغوعملیاتودهمغاړی کولواوترسره کولودنده دناټودیوځی قوماندانی دجوړښت پرغاړه ده اوپه دغه جوړښت کې قرارګاه اوپه بیلا بیلوهیوادونوکښې پرتی هډی شاملې دي .

دناټوورځنی فعالیتونه مسلکی اوپوځی جوړښتونه اودامنیتی پانګونی پروګرامونه له ګډویو بودیجوڅخه تمویلیږی چی دلګښت دشریکولوپه اړه دیوه منل سوی فورمول د مخی دټلوالی غړي حکومتونه پکښې برخه اخلي .

دناټو دتړون دغړیو هیوادونو نظامی ځواکونه پردریو برخوباندی په لاندی ډول سره ویشل سوي دي :

۱-لمړی :- هغه ځواکونه چي دناټوترمستقیمی قوماندی لاندی دي .

۲- دوهم :- هغه ځواکونه چي غړي هیوادونه منلی دي چي دجګړی درامنځته کیدوپه وخت کې په ټولیز راغونډیدلواوراټولیدلوسره دناټوپه واک کې دي ورکول کیږي .

۳- دریم : -هغه ځواکونه چي دناټودتړون دغړیو هیوادونوترملی قوماندی لاندی دي .

دشمالی اتلانتیک نظامی سازمان قوماندانی دسیاسي اوجغرافیاوي له لړلیدنه پردری قوماندانی اوپریو دطرحواوږاندیزونوپرناحیوی ډلی باندی ویشل سویدی . دهریوقوماندانی دواک اودصلاحیتونوحداواندازه درامنځته سویوعواملوپه پاملرنی سره،دهغه جملی نه جګړه اووسله کې توپیرکوي .

## الف : داروپا عالي قوماندانی :ددی قوماندانی ترنظرلاندی دقوماندی سیمی د

دماغه دشمال څخه بیا دمدیترانه پوری داطلس داوقیانوس څخه دترکیی ترختیځ پوری دی .دغه قوماندانی ترخپل واک لاندی په دغه ځایونواوسیموکښې نورې مادونی قوماندانی هم لري :

۱- لمړی : - دشمالی اروپا قوماندانی .

۲- دوهم : - دمرکزی اروپا قوماندانی .

۳- دریم : - دسویلی اروپا قوماندانی .

## ب :دااوقیانوس اطلس دسیمی داتلانتیک حوزی قوماندانی :ددی قوماندانی

ترنظرلاندی دقوماندی سیمی دشمالی قطب څخه بیا دمدارراس السرطان دشمالی امریکا دساحلی اوبوڅخه بیا داروپا اودافریقا ترساحلی اوبو اوپرتګال پوری واټن اواوږدوالی لري . دغه قوماندانی ترخپل واک لاندی په دغه ځایونوکښې نورې مادونی قوماندانی په دی ډول سره لري :

۱- لمړی :- داوقیانوس اطلس لویدیزه قوماندانی .

۲ – دوهم :- داوقیانوس اطلس ختیځه قوماندانی .

۳ – دریم : -داوقیانوس اطلس دسمندری کیښتیو دورانولو(ددښمن دکیښتیوضد)قوماندانی .

ج : دمانش دکانال قوماندانی : ددی قوماندانی تر واک لاندی سیمی دمانش دکانال څخه بیا دشمالی سمندر داوبوتر سویلی برخو پوری دی .

## د : دناحیوی طرحواووړاندیزونوډله،کاناډا اودامریکا متحده ایالاتونه

:ددغه ډلی دمسؤولیت حوزه چې یواځی شمالی امریکا ده ، دفاعی طرحی دکاناډا اودامریکا دمتحده ایالاتونو دسیمی دپاره رامنځته کوي اوجوړه وي اوونظامی کمیټی ته یې وړاندی کوي .

د(۱۹۹۰) کالنوپه لسیزه کښې کله چې شوروی اتحاد ونړیدی او دورشو،یا«وارسا» نظامی تړون هم دمنځه ولاړې ،اودناټو په جوړښت کې هم بدلون راغی ،او ډېرزیات بدلون دنظامی عالی قوماندانی په برخه کې وواوددی بدلون په نتیجه کښې دغه بدلونه هم رامنځته سول :

۱ – لمړی : - دمانش دعالی قوماندانی منحل کیدل اودمنځه یوړل صورت وموند .

۲ – دوهم : - داروپا څلورقوماندانی ودریو قوماندانیو ته را ټیټ سواویویي دمنځه یوړل سو، په دی ډول سره دانګلستان دسیمی اوداروپا شمالی قوماندانی یودبل سره ګډ سو اوویوی قوماندانی ته دشمال لویدیزدقوماندانی په نوم واړه ول سول اوبدلون یې وموند چې مسؤولیت یې دناروی ،دانګستان دبالتیک دسمندر،دمانش اودشمالی سمندر دسیمو قومانده ددی قوماندانی پرغاړه باندی واخیستل سو . او ددی قوماندانی اډه اومرکز په انګلستان کې ځای پرځای اووټاکل سو .په دی هکله نوربدلونونه هم داروپا ترقوماندی لاندی سیمواوپه نورو امنیتی خوزیوکښې راڅرګنده سول .

## دناټوپراختیا اوکیدونکی پیل دناټودسیمی بهر:

خورامهمه ټکی خو په دی ځای کښې دادی چې دشمالی اتلانتیک نظامی سازمان «ناټو» بیله دنوروډزیاتو پاملرنی اوبیله کوم ږغ اوږوغه څخه کابوویو نړیوال سازمان ته داوښتوپه حال کې دی . اودغه نظامی تړون چې وروسته ددوهمی نړیوالی جګړی څخه داروپا دامنیت دساتنی دپاره دشوروی اتحاد په وړاندی جوړاورامنځته سوی وو،اوسمهال خپلی موخی دنړی په ډېرونوروسیمو کښې پرمخ بیایې . ناټوپه خپل دغه کړنی سره وخپل جغرافیوی پراختیا اووخپل ماموریت ته اوپه خپل نظامی چاروداوددوکې یې هم زیاتوالی راوستیدی ،اوله دی کبله د«اروپایي اتلانتیک ګډون » ،« دسولی دپاره ګډون » اود«مدیترانی دخبراترو » څخه یې ګته اخیستی ده . ناټودخبراتروا وملګرتیا دلاری په خپلوغړیوهیوادونواودهغو دپولوورخوادشخړو په مخنیوی کې برخه اخلی ،ناټودموکراتیک

ارزښتونه هڅوي اودشخړو دسوله یزهواري ژمنه ده .که ډیپلوماتیکی هلی ځلی پاتي راسی ناټوداړتیا وړ پوځی وړتیا لري چي دکړکیچ دمخنیوی اوکابوکولواوسوله ساتنی عملیات په یوازی سراویادنوروهیوادونو اونړیوالوټولنو سره په ګډه پیل کړی .

ناټو یودریم اړخ هم لري چي دملکی بیړنیواواسطراری حالاتودپاره پلان جوړه ول،متحدینو اوملګروهیوادونوسره دناورین په وړاندی ددریدودپاره مرسته کول، او دسیانس اوچاپیرل په برخه کي دمرستوهڅول ددی سازمان په دندوکښي راځي .

همدارنګه داروپا دسیمو بهراړین پیل چي دناټوپه ادبیاتوکي (( دواک لاندی بهر سیمی)) ورته ویل کیږی ، ورځ ترورځه ددی نظامی سازمان په ټینګار سره دپراختیا په حال کي دی اوپه دی هکله یې، نوی کمیټی اونوی ډلی یې ددی نویو سیموسره داړیکودټینګولو پا ره چي دناټودفعالیت په حوزه کښي قرار لري جوړسویدی اویا هم دجوړیدوپه حال کي دی . په هم هغه ډول سره چي دسولی دپاره دګډون د طرحی په اړه چي داړیکو درامنځته کولوپه هکله دناټواو داروپایی هیوادونودققاز اودمنځني اسیادهیوادونوترمنځ رامنځته اوجوړ سویدی چي اوس مهـال دناټوملګـــری هیـــوادونه عبارت دي :

د (۱- البانیا،۲-ارمنستان،۳-اطـرایش،۴-اذربایجان،۵-بلاروسیه،۶-بـوسنیا هرزه ګـوینا،۷-- کـرواسیـــا،۸-فنلــــند،۹-ګـــرجستان،۱۰-ایرلـــند،۱۱-قــزاقستان،۱۲- قـرغـــیزیستان، ۱۳- ملـــــدویا،۱۴-مونتنیګرو،۱۵-دروسیـــی فیدراتیف،۱۶-صـــــربستان ،۱۷-ســـویډن ،۱۸-تونس ،۱۹- تاجکستان،۲۰-دپخوانی یوګوسلاویا دمقدونی جمهورت ،۲۱-ترکمنستان،۲۲-اوکرائین،او۲۳-- ازبکستان ) څخه عبارت دي ،که څه هم دناټوسره دروسیي دفیدراتیف اړیکی وروسته دګرجستان سره په جګړی کي له همدی کبله خړاوپړسویدی . اوهمدارنګه دناټولخوایوه بله کمیټه هم دمدیترانی دسیمی داوو(۷) ملګرو هیوادونوسره دخبراتوترسرلیک لاندی جوړه سوی ده،اودغه خبراتری اوجلسی دلاندنی هیوادونوسره صورت موندلی لکه :

( ۱-الجزایر،۲-مصر،۳-اسرائیل،۴-اردون،۵-موریتانیا،۶-مراکش او- ۷-تونس)

هیوادونوسره داړیکودنیولودپاره دمدیترانی دسیمی دهیوادونواودناټوترمنځ دخبراترو طرحه جوړه سوی ،اوپه همدی ډول سره په دا وروستیو کښي هم دیوی کمیټی دجوړه ولوړاندیز دمرستی دپاره دخلیج فارس دعربی هیوادونواودناټوترمنځ طرح اورامنځته سویدی اوپریکړه سوی چي دناټوسازمان دي ددی هیوادونو دغړیتوب او دمرستی لمړنی چاری سازماندهی کړي . دغه وړاندیز دناټودخاصی پاملرنی پربنسټ ومیلادی نوی کال ته دخلیج وسیموته طرح اووړاندی سو،په دی لړ کي دناټواستازی ډیری خبراتری اوجلسی یې دخلیج فارس دعربی هیوادونوسره ترسره کړی دي .همدارنګه ډیری لیدني اوکتني هم ددغو هیوادونوسره ددوي دمرستودراجلبولودپاره دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان «ناټو» لخوا صورت موندلی دی . /

(نوربیا،په نهمه برخه کي ادامه لري)

**اخیځلیک :- دایسنا نیوز څخه ،او د military.ir څخه .**